# زاوية الافغانيه

## (په القدس کي د افغانانو څلورسوه کلنه خانقاه)

ليکوال

محمد معصوم هوتک

آټاوا ــ کاناډا

۲۰۲۲ع

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: زاوية الافغانيه (په القدس کي د افغانانو څلورسوه کلنه خانقاه)،

ليکوال: محمدمعصوم هوتک،

د خپريدو نېټه: د ۲۰۲۲ ام عيسوي کال دسمبر مياشت،

د خپريدو ځای: افغان جرمن انلاين پورتال.

# د مطالبو فهرست


١ ــ ښو خبرې ۴ ام مخ

٢ ــ قدس شريف ۵ ام مخ

٣ ــ يافه ــ جافه ٧ ام مخ

۴ ــ خانقاه ٧ ام مخ

۵ ــ زاوية الافغانيه (په يافه کي افغاني خانقاه) ١٠ ام مخ

۶ ــ د تصوف شاذليه طريقه ٢٧ ام مخ

## بسم الله الرحمن الرحيم

## نحمده و نصلی علی رسوله الکريم

### څو خبرې

په ۲۰۰۶ع کال چي مي د " کندهاري وروڼه" په نامه خپل کتاب کيښ، د موادو د راغونډولو پر وخت مي د علامه محمود طرزي (۱۸۶۵ ـ ۱۹۳۳ع) په آثارو کي دده يوه سفرنامه چي " سياحت سه قطعه روی زمين" نومېږي، د دوهم وار له پاره ولوستله او په هغې کي مي د" زاويه افغانی" ، " تکيه افغانی" يادونه هم تر نظر تېره سوه او پخپل تر ليک لاندي کتاب ( ۱۳۵مخ)کي مي هم اشاره ورته وکړه.

تر دي وروسته مي هر وخت تلوسه وه چي ددې زاويې (خانقاه) په باب نور څه هم لاس ته راوړم. سږکال (۲۰۲۲ع) زما تېروني دوست الحاج سيد احمد موسی حج عمرې ته د سفر پر مهال له بيت المقدس څخه پيغام راولېږه چي " زاوية الافغاني" اوس هم فعاليت لري او دی ورغلی وو. په جواب کي مي د نورو معلوماتو د ترلاسه کولو سپارښتنه ورته وکړه. ده هم سمدستي د خانقاه له شيخ او نورو مسئولينو سره تر کتني وروسته يو لړ معلومات او عکسونه د وتساپ له لاري راولېږل. دده معلوماتو او زما نورو ياداښتو دغه ستاسي مخ ته پرته رساله وزيږوله.
د زاوية الافغانيه د شيخانو کورنۍ ټول افغانان دي او اوسنی شيخ ئې ځان تره کی پښتون بولي. د زاويې زيارتره غږي هم ځانونه افغانان معرفي کوي خو د وروستيو نسلو ژبه، نومونه، دود دستور، جامي او نور هر څه د نورو مهاجرينو په شان د هماغه محيط تر اغيزې لاندي او له ځايي خلکو سره د خپښيو له اسيته بدل سوي او د چا خبره عربي سوي دي، خو د شاباسی ځای ئې دادئ چي تر دري څلور سوه کلونو وروسته لا هم ځانونه پښتانه او افغانان بولي.
زه هيله من يم چي ددې رسالې ښاغلو لوستونکو ته به زما ددغه وړوکي زيار لوستنه ګټوره تمامه سي.

آټاوا ـ کاناډا

۲۵ اکتوبر ۲۰۲۲ع

## قدس شريف

په لغتنامه دهخدا کې کښلي دي چي قُدس د لويديځ اردن له ښارو څخه يو ښار دئ. دا ښار د يهودو، مسيحيانو او مسلمانانو په نظر مقدس او د درناوي وړ ښار دئ چي د" يافه" په جنوب ختيځ کي د پنځوسو ميلو په فاصله د شنو تپو پر سر پروت دئ. د مسلمانانو لومړی قبله ( مسجد اقصی) په دغه ښار کي واقع ده. ويل کېږي چي دا ښار ييوسيانو چي يو کنعاني ملت وو، ودان کړ او "يوريشليم" ئې وباله. (ييوسيان د کنعانيانو يوه طايفه وه چي د يوروشليم ښار په غرنيو سيمو کي اوسېدل. (دهخدا) ويل کېږي چي ددې ځای اصلي اوسېدونکي د عربستان لومړني عرب قبايل ول چي وروسته د کنعانيانو په نامه مشهور سول.)

له هغې زماني څخه دا ښار د عبادت مرکز او د ټولو ابراهيمي اديانو په نزد د احترام وړ ښار دئ.

اسلامي تاريخ راته وايي چي د حضرت عمررض د خلافت په وخت کي د شاماتو حکمران ابوعبيده جراح ته د خليفه له خوا يو ليک ولېږل سو او ورته امر وسو چي د بيت المقدس د فتح له پاره تياری ونيسي. (د بيت المقدس نوم بايد د ميم په زور (فتحه) او د دال په زېر (کسره) تلفظ سي. د ميم په پېښ (ضمه) او د دال په تشديد تلفظ ئې غلط مشهور دئ.)ابوعبيده د بيت المقدس اوسېدونکو ته ليک واستاوه او په هغه کي ورته وليکل چي يا د اسلام دين ومني يا جزيه ورکولو ته غاړه کښېږدي. که دا دوه کاره نه کوي نو جګړې ته دي تياری ونيسي. د ايليا (ايليا د بيت المقدس يو بل نوم دئ (دهخدا) اوسېدونکو دا غوښتنه و نه منله او ابوعبيده هغه لور ته لښکرکشي وکړه.د ښار دېوالو له رسېدلو سره سم سخته جګړه ونښتله او ډېر دوام ئې وکړ.په پای کي د ايليا لښکريانو ابوعبيده ته د سولي پيغام واستاوه او د سولي له پاره دوهم خليفه پخپله شام ته ورغئ او د بيت

المقدس خلکو جزیه ومنله او ښار ئي مسلمانانو ته تسلیم کړ.د بیت المقدس بشپړه فتح د هجرت په شپاړسم کال کي پیښه سوې ده.

صلیبي جنګونه په همدې ښار کي پیښ سوي دي او صلیبیانو په ۱۰۹۹ع کال کي القدس ونیاوه، خو صلاح الدین ایوبي (۱۱۳۷ ــ ۱۱۹۳ع ) په ۱۱۸۷ع کال بیرته ونیو. (صلیبي جنګونه د ۱۰۹۵ ــ ۱۲۹۱ع کلونو ترمنځ له مسلمانانو څخه د مقدسو سیمو د بیرته تر لاسه کولو په نیت د اروپایي واکمنانو له خوا د پاپ په غوښتنه پیل سوي ول. صلاح الدین ابوالمظفر یوسف ایوبي د مصر او سوریې لومړنی سلطان او د ایوبیانو د دولت بنسټ ایښوونکی وو. ایوبیان په ختیځ کردان ول او له ۱۱۷۱ع څخه تر ۱۲۶۰ع پوري ئې پر مصر، سوریې او عراق باندي واکمني کوله. صلاح الدین ایوبي په ۱۱۸۷ع کال د حطین په جګړه کي صلیبیانو ته سخته ماته ورکړه. حطین په فلسطین کي د یوه کلي نوم دئ.)ددې ښار تصرف له ۱۵۱۷ع کال وروسته د تُرکانو په لاس کي او د استانبول تر مستقیمي اداري لاندي وو. د عربو او اسرائیلو تر جګړې (۱۹۴۷ ــ ۱۹۴۹ع) وروسته ددې ښار ډېري برخي د اسرائیلو له خوا ونیول سوې او پایتخت ئې ورته رانقل کړچي اوس ئې مورږ د تل ابیب په نامه پیژنو.د تل ابیب ښار رسمي نوم تل ابیب ــ یافه دئ چي په حقیقت کي د تل ابیب او یافه په نومو د دوو ښارونو څخه اخیستل سوی دئ.

## يافه ـ جافه

يافه ښار تر ميلاد څورلس سوه كاله پخواد كنعانيانو له خوا تاسيس سوی وو. د عربو او اسرائيلو ترمنځ د ۱۹۴۸ جنگ پخوا دا ښار د فلسطين عربي ښار او سياسي،فرهنگي او اقتصادي مركز وو چي د ۱۹۵۰ع كال راهيسي د تل ابيب په حوزه كي شامل ښار دئ او له تل ابيب ښار څخه ئي واټن څه دپاسه شپږ كيلومتره كېږي. وگړي ئي يهوديان، مسيحيان او مسلمانان دي. بيت المقدس د يافا د ختيځ په پنځه شپېته كيلومتري كي پروت دئ.

## خانقاه

په غياث اللغات كې خانقاه ( د نون په زوَر) د مشايخو او درويشانو د استوگني ځای بللی دئ او زياته كړې ئي ده چي دا كلمه د " خانگاه" مُعَرّبه بڼه ده. د فارس خلک ئې د نون په سكون هم تلفظ كوي.

په لغتنامه دهخدا كي ئي د خانقاه په باب د غياث اللغات نقل قول راوړی دئ او ورپسې ئې خورا اوږده څېړنه كړې ده چي يوه برخه به ئې دلته په آزاده توگه د عباراتو په يوڅه بدلون پښتو ته راواړوم او خپل معروضات به هم پر زيات كاندم :

خانقاه هغه ځای دئ چي درويشان او مشايخ پكښې اوسي او عبادت پكښې كوي. صومعه ، عبادتگاه ، تكيه ، استانه ، زاويه او رباط ئې هم بولي. جمع ئې " خوانق، خانقاهات" ده.

خانقاه د ځينو څېړونكو په نظر د فارسي ژبي كلمه ده او اصل ئې " خونگاه" ده . خونگاه هغه ځای ته ويل كېده چي سلطان به مری پكښې خوړله. خو نن خانقاه د صوفيانو استوگنځي ته وايي. ويل كېږي چي د دغه راز استوگنځيو څرک موږ تر شپږمي هجري پېړۍ پخوا نه لرو او لومړنۍ خانقاه په مصر كي د سلطان صلاح الدين يوسف (۱۱۳۷ ـ ۱۱۹۳ع ) په زمانه كي جوړه سوه. دغه سلطان د خانقاه پر ودانولو سربېره د سالكانو له پاره ټاكلي اندازه خواړه او د لاري خرڅ او څورۍ هم وټاكه.

ځيني نور څېړونکي بيا د خانقاه جوړېدل څلرمي هجري پېړۍ ته غځوي او وايي چي د عبادت له پاره لومړۍ خانقاه ديوه اصحابي چي زيد بن صوحان بن صرة نومېده،په لاس جوړه سوه . ده د بصرې ځيني خلک وليدل چي نه ئې کوم تجارت او زراعت درلود او نه ئې بله ګټه وټه درلوده، خو د حق سبحان عزوجل عبادت ته ئې ژوند وقف کړی وو او په آرام زړه او خيال ئې د محبوب ازلي پرستش کاوه. ده د دغو کسانو له پاره يو کور وټاکه او د خوړو د انتظام سرښته ئې ورته وکړه.

يو روايت داسي هم سته چي په اسلامي عصر کي لومړۍ خانقاه هغه زاويه وه چي د بيت المقدس په " رمله"کي جوړه سوې وه.

ويل کيږي چي حضرت معاويه به په عراق کي خپلو امراوو او په تېره بيا زياد ته امر کاوه چي " ابن سبيل، فقيران او ذوی الحاجة" ته مرستي ورسوي .

د خانقاه تاسيس او د مساکينو او متصوفينو د راغونډېدلو د ځای په توګه د هغې دود او رواج د اسلام د مقدس دين تر راتګ څو پېړۍ وروسته منځ ته راغلی دئ، خو دا دود او دستور د آنحضرت د زمانې له " صفه" سره ورته والی لري. صفه هغه ځای وو چي بېوزله صحابه کرام به پکښې راغونډېدل. که به داسي يو څوک مديني ته راغئ چي هلته به ئې د استوګني ځای،دوست ، آشنا او ټاټوبی نه درلود، صفې ته به ولاړ او هورې به ئې واړول.

د خانقاوو په جوړېدو کي څو ګټي پرتې وي. لومړی دا چي د بېوزلانو له پاره د استوګني ټاټوبی وو. بل دا چي د متصوفينو د اجتماع او عباداتو مرکز وو. دوی به په خانقاه کي مشترک عبادتونه، مجلسونه کول او په ظاهر او باطن کي به ئې دغه ځای د يو بل له پاره د اتحاد او اتفاق مرکز ګڼل کېده. په خانقاه کي به ئې ترمنځ مينه، محبت او قلبي اړېکي سره ټينګېدل . ددوی دغه صميميت او قلبي نزدېکت به پر نورو وګړو هم مثبته اغېزه ښندله.

خانقاه ځان ته ټاکلي اصول لرل اولري يې .په خانقاوو کي اوسېدونکي دوه رازه خلک وي. يوه ډله ئې پردېسان او بله ئې همېشني استوګن (مقيم) دي. صوفيانو چي به په سفر ووتل، هڅه به ئې کوله چي خانقاوو ته تر لمر لوېدو دمخه ځان ورسوي. خانقاه ته له رسېدلو سره سم به ئې دوه رکعته نفل ادا کړل او بيا به ئې له حاضرينو سره روغبړ کاوه. معمولا به ئې د مقيمو کسانو له خوا تر مړی

راوړلو دمخه خبري نه کولي. که به چا ونه پوښتل ، څه به ئې نه ويل. په خانقاه کي به ئې تر درو ورځو تېرولو دمخه له هغه ځايه تر هغو پوري دباندي نه وتل چي د سفر له ستړياوو څخه به ئې د باطن حالات آرام موندلی نه وو او د مشايخو د ليدلو کتلو له پاره به آماده سوي نه ول. له خانقاه څخه به د دغه ځای د مسئولينو له اجازې پرته نه وتل. نوو راتلونکو ته به د خانقاه خادم لازم خدمات برابرول. که به نوي راغلي کسان د صوفيانو له رسم و رواج سره ناآشنا ول، خادم به ورته د حقارت په سترګه نه کتل او له خانقاه څخه به ئې نه منع کول. خانقاه ته که به داسي کسان راغلل چي ددې مقام صلاحيت به ئې نه درلود، خادم به تر مړی ورکولو وروسته په ښه خوله جوابول.

په افغانستان ايران او ځينو عربي هيوادو کي ځيني سيمي او کلي هم د خانقاه په نامه يادېږي .

# زاوية الافغانيه

## (په يافه کي افغاني خانقاه)

دعثماني امپراتورۍ پر وخت يافه د نړۍ د ډېرو هيوادو د زايرينو، صوفيانو، درويشانو او پردېسانو د ورتګ شاهده وه. ددغو پردېسانو له پاره بېلابېلې " زاويې" يا " رباطونه" جوړ سوي ول او په هغو کي به د پردېسانو او زايرينو له پاره د ژوند لومړنۍ اړتياوې او د استوګني کوټې مهيا وې. (زاويه په لغت کي کونج ته وايي او په اصطلاح کي خانقاه، تکيه خانې، رباط او استاني ته ويل کيږي.)

هري زاويې به يو مشر او څو خادمان درلودل. وايي چي د اسرائيلو له خوا ددې سيمي تر اشغال پخوا دلته د اسلامي نړۍ د مختلفو اقوامو په نامه څه دپاسه ځلوېښت زاويې ودانې وې." زاوية الافغانيه" له دغو زاويو څخه يوه زاويه (خانقاه) ده چي تر اوسه ( ۲۰۲۲ع کال) پوري فعاله ده.

ددې زاويې تېر تاريخ او حالات موږ ته معلوم نه دي، خو د هغې پر موجوده ډبرينه لوحه باندي ئې ( ۱۰۴۳هـ) سنه دوه واره ( لاندي ـ باندي)کښلې ده او ګويا دا ئې د تأسيس کال دئ. دا کال له ۱۶۳۳ع کال سره برابر دئ. پر دغه وخت د عثماني امپراتورۍ اووه لسم پاچا څلرم سلطان مراد د واک پر تخت ناست وو. دده د پاچهۍ دوره ( ۱۶۲۳ ـ ۱۶۴۰ع) کلونه ول. په دې حساب نو د زاوية الافغانيه د تاسيس کال د څلرم سلطان مراد د پاچهۍ لسم کال وو.

سلطان مراد د عثماني امپراتورۍ په واکمنانو کي يو مقتدر سلطان او خليفه وو چي د " صاحبقران فاتح بغداد غازي" لقب ئې درلود. دده په وخت کي ققفاز، آذربايجان، ايروان، تبريز، بغداد او بين النهرين فتح سول او صفويانو ته ئې دوه واره ماتې ورکړه. يوولس کلن وو چي پاچا سو. لکه وړاندي چي مو وويل د موجودو اسنادو او مدارکو او زاويې د مدخل پر سر باندي د اوسنۍ لوحې له مخي "زاوية الافغانيه" دده د سلطنت پر وخت تاسيس سوې وه.




د ډبريني لوحې په منځ کي ئې کښلي دي:
" بسم الله الرحمن الرحيم . هذه زاوية مولانا و سيدنا قطب العارفين و سلطان الاولياء اجمعين الشيخ عبدالقادر الجيلانى قدس الله العزيز. سنه ١٠٤٣".
د اوسنی لوحې له مخي ويلای سو چي د زاويې د شيخانو طريقه غوث الاعظم شيخ عبدالقادر جيلاني ته منسوبه طريقه وه.
زاوية الافغانيه په اووه لسمه پېړۍ کي له سره بيا ودانه او پراخه سوه او د هغه وخت د القدس د والي له خوا د هغو حجاجو او زايرينو له پاره وقف سوه چي له افغانستان څخه به ورتلل. د زاويې له اوسنيو شيخانو سره هغه فرمان سته چي د افغاني حجاجو له پاره ئې د سرې پر سر د ورځي دوه رطله ډوډۍ او زيتون غوړي حواله سوي ول. (يو رطل له تقريباً نيم کيلوگرام سره برابر دئ.)
د فرمان متن: " قدوة الأماجد والأعيان متسلمنا بالقدس الشريف حالاً، مصطفى اغا زِيدَ مَجدُه،

بعد التحية والتسليم نُحيطُ عِلماً بهواننا ابتغاءً لوجه الله تعالى و عملاً بأحاديث سيدنا رسول الله صلى الله عليه وسلم قد أنعمنا برطلين خبز و اوقيتين زيت يومى على رافعين مرسومنا هذا دراويش الأفغان سليمانى كابلية القاطنين فى مدرسة القادرية بالقدس الشريف. فبناءً على ذلک اصدرنا لكم مرسومنا هذا على يدهم فالمراد بوقوفكم عليه، تدفعوا لهم الرطلين خبز واوقيتين زيت يومى و تكون جارية من غير الانقطاع إلى ماشاء الله تعالى اعلموه و اعتمدوه غاية الاعتماد فى ... ١٢٢٤ امير الحاج يوسف والى ..."



په مکه معظمه کي د رباط افغاني تاسيس هم د همدغو زاويو د لړی يوه کړی ده. (د رباط افغاني په باب وروستی خبري زما د هغي ليکني يوه برخه ده چي

د " رباط افغاني هم خرڅ سو" تر نامه لاندي مي په ۲۰۰۱ع کال خپره کړې ده.
( م.هـ)

رباط افغاني د دوه نیمو سوو کالو راهیسي د حج په موسم كي د بې وزلو افغاني حاجیانو تمځای و . دا ودانۍ د لوی احمدشاه بابا په امر و سپارښتنه جوړه سوې وه چي په تاريخي متونو كي پر " رباط افغاني" سر بېره د"حاجی خانه" او "سليماني کاروانسرای"په نومو هم یاده سوې ده . علامه عبد الحی حبیبي د افغانستان په تاريخي پېښلیک کي د ۱۱۷۰ ق کال د پېښو په ترڅ كي د دغي ودانۍ نامه ته داسي اشاره لري : " په مکه کي د افغاني حاجيانو له پاره سليماني کاروانسرای د احمدشاه په امر حاجي عبدالکریم بارکزي او حاجي محراب خان نورزي جوړ کړ . (ربیع الاول غره ۱۱۷۰ ق" . میر غلام محمد غبار او ډاکټر گنداسنگه هم دغه خبره تاییدوي . (وگ : غبار ـ احمدشاه بابا افغان – صفحه ۱۷۴ چاپ ۱۳۲۲ ش کابل ــ گنداسنگهـ ـ دراني احمدشاه ۴۴۹ مخ ۱۳۶۶ ش کابل)

دا رباط یا حاجي خانه د اعلیحضرت نادرشاه په پاچهۍ کي له سره بیا ترمیم سوه او د سردار محمد داودخان په جمهوریت کي د کندهار یوه دیانت پېشه سوداګر مرحوم حاجي ملا عبدالحق (مشهور په حاجي مُلا) له خپلي شخصي پانګي څخه ښه زیاتي پیسي د دغه رباط په ودانولو او ترمیمولو ولګولې . د رباط افغاني د پخواني شکل و جوړښت په باب زه (م.هـ)پر لیکلو مدارکو پېښ سوی نه یم خو ما چي په ۲۰۰۱ع کال کي دغه ودانۍ ولیدله، د یوه سرای شکل ئې درلود په منځ کي یوه صفه (تنګاچه) وه او شا ته ئې څو خوني پرتې وې .

(لوی احمد شاه بابا د پاني پت تر جګړې وروسته عثماني پاچا سلطان مصطفی ثالث ته په اوږده لیک کي د خپل جلوس او په هندوستان کي د خپلو فتوحاتو په باب معلومات ورکړي دي او د لیک په پای کي ئې په مدینه منوره کي ئې پخپل لګښت د یوه مسجد د ودانولو غوښتنه هم ځنې کړې ده خو دې غوښتني ئې د عمل جامه وا نه غوستله. وگ : نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی ـ تعلیق و تحشیه غلام جیلانی جلالی، صفحه ۸۳، دانش ټولنه، طبع دوم، ۱۳۸۳هـ ش)

د زاوية الافغانيه په اوسنۍ ودانۍ کي يو منار او څو نور تاسيسات د عثماني زمانې له وختو سالم پاته دي.

لکه مخکي چي مو هم وويل دا زاويه د خپل تاسيس په لومړي سر کي د " مدرسة القادريه"،" زاوية القادريه" او "زاوية الافغانيه " په نومونو جوړه سوې وه او ويل کيږي چي زيات و کم دوې پيړۍ د همدې طريقې پيروانو ئې د سربښتې چاري پر مخ وهلې. تر دوهم ترميم وروسته ئې د شيخانو طريقه شاذليه ته اوښتې ده چي وروسته به پر وړ.غږېږم، خو د زاويې دروازه د ټولو طريقو د پيروانو پر مخ خلاصه ده.

ددې زاويې د تېر حال په باب کوم اسناد او مدارک په لاس کي نسته خو د تاسيس تر زمانې يو سل و شپږ اويا کاله وروسته د زوايې له اوسنيو مشرانو سره همدغه يو فرمان سته چي په ۱۲۲۴هـ ق کال صادر سوی دئ. ۱۲۲۴ ق کال له ۱۸۰۹ع کال سره برابر دئ.

د زاوية الافغانيه اوسنی موقعيت د القدس د زاړه ښار د مسلمان نشينو په برخه کي د حرم الشريف شمالي لوري ته په "برقوق کوڅه" کي ښوول سوی دئ. دا کوڅه د سلطان برقوق نامه ته منسوبه ده.سلطان الظاهر سيف الدين برقوق په مصر کي "مملوک برجي" د کورنۍ لومړی سلطان وو چي د دوه واره سلطنت دوره ئې ( ۱۳۸۲ ـ ۱۳۸۹ع) او ( ۱۳۹۰ـ ۱۳۹۹ع) ښوول سوې ده. د اوسنۍ وانۍ دروازه له مخکي څخه درې زينې لوړه د يوه شيشک (طاق) په منځ کي ولاړه ده. دواړو خواوو ته ئې د ډبرو چوکۍ پرتې دي او پر سر ئې پر يوه ډبره باندي د زاويې نوم او د تاسيس کال کيندل سوی دئ. په زاويه کي دننه مسجد، د اوسېدلو او تدريس کوټې، دفتر او نور لوازم سته چي ټول تاسيسات ئې له ۱۲۲۴ق کال راهيسي د افغاني زايرينو له پاره وقف سوي ول او اوس ئې هم تَوَلا د يوې افغاني الاصله کورنۍ په لاس کي ده چي وروسته به پر وړ.غږېږم.


MadainProject
https://madainproject.com



دیورتني فرمان د صدور کال د عثماني امپراتور دوهم سلطان محمود ( ۱۸۰۸ ـ ۱۸۳۹ع) د سلطنت دوهم کال دئ. ددغه سلطان له مهمو کارنامو څخه په حجاز کي د آل سعود له سلطان سره جګړه ( ۱۸۱۱ع) او په هغې کي د آل سعود د لومړني دولت ( امارت درعيه) ته خاتمه ورکول او پر حجاز باندي د عثماني امپراتورۍ بيا ټينګول دي. ددي جنګونو په باب به لږ څه په تفصيل وړغيږم. ښايي د لوستونکو په درد به وخوري.

په ۱۱۵۷هـ ق = ۱۷۴۴ع کال محمد بن سعود د عربستان په ټاپو وزمه کي خپل امارت تاسيس کړ او د امارت پايتخت ئي "درعيه" وټاکه.
(دِرعيه : په سعودي عربستان کي د رياض په شمال لويديځ کي د يوه پخواني ښار نوم دئ چي له ۱۷۴۴ع څخه تر ۱۸۱۸ع پوري د آل سعود د کورنۍ لومړنۍ پايتخت وو، دا ښار په ۱۸۱۸ع کال د ابراهيم محمد علي پاشا په لاس وران سو. ( ويکيپيډيا)

دا دولت سعودي عربستان لومړنۍ دولت وو چي د" امارت درعيه" په نامه بلل سوی دئ او تر ۱۲۳۳هـ ق = ۱۸۱۸ع پوري دوام وکړ.

له دې دولت سره يوې نوي راپيدا سوي فرقې چي وروسته د وهابيانو په نامه وبلله سوه په ۱۱۵۹هـ ق = ۱۷۴۵ع کي اتحاد وکړ او د آل سعود دولت ته ئي مذهبي تاداو کښېښوو.

ددې فرقې بنسټ ايښوونکی محمد بن عبدالوهاب په ۱۱۱۵هـ ق = ۱۷۰۳ع کال په نجد کي زيږيدلی وو. پلار ئي حنبلي مذهبه وو. ده په دمشق، بغداد او بصره کي تحصيل وکړ. تر تحصيل وروسته ئي په ځينو مسايلو په تېره بيا د توحيد په مسئله کي له اهل سنت والجماعت څخه خپله لار بېله کړه او د خپلو عقايدو مخالفان ئي مشرکان وبلل.

محمد بن عبدالوهاب په لومړي سر کي د اهل سنت علماوو د عکس العمل له بېرې خپل عقايد په ډاګه نه کړل خو کله چي ئي په ۱۷۴۵ع کال درعيې ته سفر وکړ او ددې سيمي له واکمن ابن سعود سره ئي اتحاد وکړ، نو ددې واکمنۍ سياسي ملاتړ ورته د خپلو تعليماتو د خپرېدلو له پاره مناسبه فضا منځ ته راوړه.

د آل سعود دې محلي واکمنۍ او له دې نوې فرقې سره د هغوی اتحاد عثماني امپراتورۍ چي حجاز ئي تر واکمنۍ لاندي سيمه وه، د خطر زنګونه وشرنګول.

دا مسئله د۱۲۱۸هـ ق = ۱۸۰۳ع کال پوري د عثماني سلطانانو په نظر یوه سیمه ییزه ستونزه وه او څرنګه چي عثماني امپراتوري په دغه وخت کي له یو شمېر بهرنیو مشکلاتو سره مخامخ وه، دې خطر ته ئې ډېر اهمیت نه ورکاوه. خو کله چي په ۱۸۰۳ ـ ۱۸۰۵ع کلونو کي د آل سعود او وهابیانو بریدونه تر طائف، مکې او مدینې پوري ورسېدل، عثماني سلطانانو ددوی سیاسي اهداف جدي وګڼل او په دغه سیمه کي ئې د خپل حضور له پاره حیاتي خطر وباله. ددې خطر د لیري کولو له پاره ئې د مصر والي محمد علي پاشا ( ـ ) وټاکه. نوموړی له ۱۸۱۱ع کال څخه تر ۱۸۱۸ع کال پوري وتوانېد چي د آل سعود دغه لومړنی دولت او د هغه ملاتړي وهابیان له درعیې څخه وشړي او حرمین شریفین د هغوی له لاسه وباسي.

د" زاوية الافغانيه" یوه مشاهد په ۲۰۱۸ع کال کي خپل مشاهدات د" Sufism in Jerusalem" تر نامه لاندي په یوه لیکنه کي په انګرېزي ژبه خپاره کړي دي چي لنډیز ئې دلته پښتو ته را اړوم.

ددې پنځه سوه کلني زړې زاویې معماری ته که څوک لاندي باندي وګوري نو د چا په ذهن کي د صوفیانه افکارو یاد را ژوندي کوي. د زاویې د غولي په منځ کي له یوې ښکلي فوارې څخه اوبه راغورځي او شاوخوا ئې د خوشبویو ګلابو بوټي، د زیتون درختي او د ګلانو نور بوټي شنه دي. د غولي جنوبي او لویدیځ لور ته د زیارت کوونکو او صوفیانو د استوګني له پاره یوولس کوټې وداني دي. د اوداسه ځای او نور لوازم ئې د غولي په شمالي کونج کي واقع دي. د غولي په جنوبي خوا کي یوه پراخه صفه ( تنګاچه) د زایرینو د را غونډېدلو له پاره سته. د غونډو پخوانی سالون د غولي په ختیځ کي دئ او دوه پوړه لري. کښتنی پوړ ئې له پنځلسمي مېلادي پېړۍ راهیسي ولاړ دئ خو پورتنی پوړ ئې وروسته پر زیات سوی دئ چي اوس د شیخ د استوګنځي کار ځني اخیستل کېږي. د مسجد دوه پوړیزه ودانی ئې په جنوب ختیځ خوا کي ده . په غولي کي یو ګردی فلزکاره زرغون منار ولاړ دئ.

د زاوية الافغانيه مستحفظ ابوناصرالافغاني نومېږي چي په قدس شریف کي د الشاذلیه طریقې د مشر شیخ عبدالکریم کشر ورور دئ. دلته د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کي د ماښام تر لمانځه وروسته خلک د ذکر له پاره راځي. د دې ځای مقتدیان او د طریقې پیروان اروپایي جامې اغوندي او سپیني ګردۍ خولۍ پر سر کوي.

ابو ناصر الافغاني په قدس شریف کي د صوفیزم او شاذلیه طریقې د تېر تاریخ په باب داسي ویلي وو :

په قدس شریف کي له پېړیو راهیسي صوفیانه افکارو اسلامي دین او هویت ته رونق ورکړی دئ. د امویانو، فاطمیانو،ایوبیانو،مِملوکو او عثمانیانو په دورو کي القدس د صوفیانه طریقو او ورسره اړوندو مدرسو، خانقاوو،زوایاوو او رباطونو د پرمختګ شاهد وو. دا تاسیسات د سلطانانو، امیرانو او نورو بډایانو له خوا د اُخروي اجر په نیامت ودان سوي ول.

د عثماني دورې په سر کي له اسلامي نړۍ څخه د غیر عربو هندیانو، افغانانو،د مرکزي آسیا د وګړو، اندونیشیایانو او تُرکانو ډلي پر القدس باندي راماتي سوې چي د هغوی اولادې په همدغو زوایاوو کي پاته دي.

هر قوم به په خپلو اړوندو زوایاوو کي د خپلو هغو طریقو روحاني پېشوایان او شیخان موندلای سوای چي پخپلو وطنو کي به ئې د هماغي طریقې پېروي کوله. د ټولي اسلامي نړۍ زایرین به  د خپلي اتنیکي ټولني د روحاني کړیو له خوا ځای پر ځای کېدل او هر قوم به په دغو زوایاوو کي خپل روحاني پېشوایان موندلای سوای. ورځني عبادات او لمونځونه به ئې په الحرم شریف کي ادا کول خو د صوفیانه طریقو اړوند ریاضتونه به ئې په دغو زوایاوو کي سرته رسول.

په القدس کي د شاذلیه طریقې مشر شیخ عبدالکریم الافغاني خپل زیات وخت په الاقصی کي په عبادت تېروي. دده په غیاب کي به ئې ورور ابو ناصر  زما سره د معلوماتو په راغونډولو کي مرستندوی وو. ده راته وویل چي دا زاویه په اول سر کي د قادریه طریقې په توګه تاسیس سوه خو وروسته د شاذلیه طریقې ته واوښتله. دې اوښتون په صوفیانه مراسمو کي هم بدلون راووست.
هر شیخ او هره طریقه خپل شعائر لري او هر صوفي لاربنود د تصوف د اساسي عناصرو په خوندي کولو سره خپل خاص ذکرونه، وِردونه ، او نومونه پخپلو حلقاتو کي تکراروي.

ابو ناصر الافغاني په دې کار وياړ کاوه چي ددوی ټولنه یوه بشپړه افغاني زاویه پاته سوې ده خو د القدس نور اوسېدونکي هم په ځان کي رانغاړي. ده زیاته کړه چي هره هفته د جمعې ورځي د ماښام په ذِکر کي په اوسط ډول پنځوس تنه

ذاکرین حاضرېږي خو د دوشنبې په ماښام کي ئې شمېر د شلو تنو په شاوخوا کي وي.

زاویة الافغانیه د القدس د والي محمد پاشا ( ۱۶۳۲ ــ ۱۶۳۳ع) له خوا تاسیس سوې وه. دا ودانۍ د زاړه القدس په برقوق کوڅه کي واقع ده. د ودانۍ د معمارۍ عثماني بڼه تر یوې اندازې ساتله سوې ده او دا وروستنۍ زاویه ده چي د شیخ عبدالکریم الافغاني تر مشرۍ لاندي اذکارو او نورو هفته وارو مراسموته دوام ورکوي او پرڅنګ ئې د معراج د شپې او مولود شریف مراسم هم تجلیلوي.

په قدس شریف کي له ۴۶ زاویو څخه پر زاویة الافغانیه برسېره " زاویة الهندیه" او " زاویة النقشبندیه" هم لږ و ډېر فعالیت لري خو د خوښۍ او شکر ځای دئ چي " زاویة الافغانیه" پخپل ټول برم ژوندۍ پاته ده.

تر دې تشریح وروسته به بیرته خپل اصلي مطلب ته راوګرزم.
زما ( م.هوتک) راوي د زاویې ( خانقاه) د اوسنیو شیخانو له خولې وایي چي د زاویة الافغانیه اساس د القدس د والي محمد پاشا په وخت کي ایښوول سوی وو. په یوه ویډیویي پانه کي ددغه والي نوم محمد پاشا ابن سلطان سلیمان پاشا ښوول سوی دئ. زما په ګومان ددوی مراد به ددغه دوهم ترمیم او دوهم وار ودانۍ زمانه وي. خو د سلطان سلیمان پاشا د واکمنۍ دوره تر دغي زمانې یو څه وړاندي وه.

ددې زاویې په باب تر دغه وخت یو اتیا کاله وروسته موږ ته په کندهاریو سردارانو کي د سردار رحمدل خان لمسی محمود طرزي بن سردار غلام محمد خان طرزي نسبتاً مفصل معلومات راکوي . د سردار غلام محمد خان طرزي کورنۍ د افغانستان د امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰ ــ ۱۹۰۰ع) د پاچهۍ په سر کي له وطن څخه فرار ته مجبور سول او په برتانوي هند کي له یو لړ سرګردانیو وروسته د عثماني دولت په موافقه او د انګرېزي حکامو په اجازه دخپلي کورنۍ له ټولو غړو سره ، چي زلمی محمودطرزي هم پکښې و، په کال ۱۳۰۲ هـ ق =۱۸۸۵ع کي له کراچي څخه مخ پر بغدادروان سو . شپږ میاشتي ئې په بغدادکي تیري کړې اووروسته ئې دعراق دوالي په سپارښتنه خپله کورنۍ په بغدادکي پرېښووله اوخپل مشرزوی محمودطرزي یې دسفردملګري اوترجمان په توګه له ځان سره ملګری کړاودعثماني ترکیې پایتخت استانبول ته ئې دسلطان

عبدالحمید غازي دربارته ځان ورساوه . سلطان ته ئي درنې قصیدې وویلې اودهغه له خوا ورته دمیاشتي دوه زره قرشه تنخواه مقرره اوپه سوریه(شام) کي داستوګني له پاره یوه اندازه مځکه ورکول سوه . سردارغلام محمدخان طرزي دوې میاشتي ددولت دمېلمه په توګه په استانبول کي تیري کړې اووروسته سوریې ته ستون سو. خپل زوی محمودطرزي یې په کورنۍ پسي بغدادته ولېږه اوڅه موده وروسته یې کورنۍ هم ورسره یوځای سوه . په ۱۳۰۳هـ ق = ۱۸۸٦ع کال یې یووار بیا استانبول ته سفر وکړ او د سلطان عبدالحمید له خواونازول سو . و۱۳۰٤هـ ق = ۱۸۸۷ع کال په پای کي ئې د حج سفر وکړاودبیت الله شریف په زیارت مشرف سو . د حج فریضې تر ادا کولو وروسته بیرته سوریې ته ولاړ اوپه ۱۳۰٦هـ ق = ۱۸۸۹ع کال د ( اخلاق حمیده ) په نامه یو کتاب وکیښ اودخپل زوی محمودبیګ په لاس ئې د عثماني ترکیې سلطان خلیفة المسلمین سلطان عبدالحمید ته واستاوه چي دسلطان له خواوستایل سواویو زر قرشه ئې دده دتنخواه ضمیمه کړه او۲۰۰۰ قرشه ئې دمحمود بیګ د سفرخرڅ په نامه ورکړل. په ۱۳۰۸هـ ق = ۱۸۹۰ع کال ئې بیا له خلیفة المسلین سلطان عبدالحمید خان په اجازه د حرمینو شریفینو د زیارت اجازه واخیستله او په دې سفر کي ئې محمود طرزي له شام څخه تر اسکندریې پوري ملګری وو. محمود طرزي د خپل دغه سفر ورځنی جریان په یوه سفرنامه کي په دري (فارسي) ژبه کښلی دئ چي " سیاحت سه قطعه روی زمین" نومېږي او په ۱۳۳۳هـ ق = ۱۹۱۵ع کال په کابل کي د عنایت مطبعې له لاري د کتاب په شکل خپره سوې ده. ددې سفرنامې له ۶۵۰ مخ څخه تر ۶۶۰ مخ پوري په " یافه" کي د خپلو مشاهداتو بیا ن کښلی دئ چي دلته به ئې پښتولنډیز راوړم.

محمود طرزي لیکي چي د ۱۳۰۸ق کال د ذیقعده په شپاړسمه د یکشنبې په ورځ له پورتسعید څخه یافې ته ورسېدم او دلته مي وغوښتل چي د واپور (کښتۍ) له اوږده توقف څخه په استفادې سره په یافه کي د خپل پلار له پخواني افغان اشنا" ملاجلندر" سره وګورم. له ملا جلندر سره دده پلار هغه وخت پېژندلي ول چي د بیت المقدس زیارت ته تللی وو او محمود طرزي ته ئې ددغه افغان ملا د علمیت او ذکاوت په باب ډېر زیات توصیف کړی وو.

محمود طرزي له ملا جلندر سره د خپل ملاقات تر کښلو دمخه د خپلي سفرنامې لوستونکو ته د هغه وخت " یافه" داسي ور پېژني :

یافه د قدس شریف له متصرفاتو څخه یو ښارګوټی (قصبه) دئ. له قدس شریف څخه د ۵۵ کیلومترو په فاصله د شمال خوا ته د "عکا" بندر او " غزه" تر منځ پروت دئ.
(عکا : د اسرائیلو په شمال کي د مدیترانې سیند پر غاړه یو بندري ښار دئ. دا ښار د نړی یو لرغونی ښار او له نژدې ځلور زرو کالو راهیسي د خلکو استوګنځی دئ.)

نفوس ئې لس پنځلس زره تنو ته رسیږي . ددغه ښارګوټي شاوخوا د خورا ښونارنجو باغونه سته چي زیات شهرت لري او د تجارت له پاره ډیر ګټور دي. لیمو،انار، انځر، بادام او نورو میوو باغونه هم لري. کوڅې ئې تنګې او تیاره دي او یو بې ډوله ښارګوټی دئ، خو څرنګه چي د بیت المقدس بندر دئ، ځکه نو ځانګړی اهمیت لري. دا ښارګوټی خورا لرغونی ځای دئ. د یونانیانو په پخوانیو جغرافیو په کتابو کي د " یوپه" په نامه یاد سوی او په تورات کي ئې " یافو" بللی دئ. ځینو بیا ویلي دي چي ددې ښارګوټي تاداو د یافث بن نوح په لاس ایښوول سوی او د خپل نامه له اسیته ئې " یافه" بللی دئ....

لنډه ئې دا چي د "یافه" بندر ته چي را وختلم، هوا ډیره ښکلې او تازه وه. په څو تنګو او تیارو کوڅو کي را تېر سوم او یوه پراخ بازار ته چي په نوي ډول ودان سوی وو، ورسېدم. دلته مي یوه بګی کراهیه کړه اوپه ښار او شاوخوا کي ئې یو ساعت قدر وګرزېدم. له بګی وان څخه د ملاجلندر نومي افغان پوښتنه وکړه چي پېژني یې که یه؟

راته وې ویل چي نه پېژنم ، خو ښایي د افغانانو په تکیه کي به چي د"عفار" جامع ته څرمه واقع ده، اوسي.
ورته ومي ویل چي هورې مي ور وله.

بګی وان تر یو لږ څه تګ وروسته بګی د یوې جامع مخي ته ودروله. له بګی را کښته سوم، کراهیه مې ورکړه او جامع ته ور ننوتلم. جامع ښه پراخ غولی درلود او شاوخوا ئې برنډې وې. په یوه برنډه کي مي یو افغان په سترګه سو. هغه ته ورغلم او په پښتو مي ځني وپوښتل چي :
وروره! ملاجلندر چیري اوسي؟

دې افغان چي له رنګه راته اخکزی یا کاکړ ښکاره سو او ښایي دې ځای ته به په نزدې وختو کي راغلی وو، زما کړو وړو او عینکو ته په ځیر وکتل، خپل

انديوال ته چي هغه هم په دغه برنده کي په يوه خونه کي دننه ناست وو، ور ږغ کړ :
" شابدينه! ته راسه وګوره چي دا تُرک څه وايي، زه نه پوهېژم!" (د مکالمي ليکدود د سفرنامي له ثبت سره سم کټ مټ را نقل سوی دئ. ( م.هـ)
ورته و مي ويل:

" زه پشتون يم په پشتو استا سر خبوري کوم څه راز نه پوهېژې؟"
وې ويل:

" څه پوهيژم چه لک تاغندی چارچشمه پشتنوهم پيدا کيژی ! په خبر ده پوه شوم چه ملاجلندرآخنددی غوشت بياباورمی نشوچه تاسو په پشتوخبرکوی ! "
په دې وخت کي (شابدين) هم له خوني راووت. کله چي ئې پر ما سترګي ونښتلې، " سردار صاحب" ئې وويله او پر لاسو مي را پرېووت. ما چي ورته وکتل، دا هغه ساکزی شابدين (شهاب الدين) وو چي څو کاله پخوا مي په شام کي ليدلی او ورسره پېژندلي مي وه. په پښتو مو روغبړ سره وکړ او وروسته دواړه د ملاجلندر د اتاق پر خوا روان سوو.

د ملا صاحب کوټه ښه خواپاکي کوټه وه. دی اوداسه ته تللی وو. دوې درې دقيقې وروسته راغی . تر روغبړ او احوال پوښتني وروسته مي د خپل سفر بيان ورته وکړ چي څرنګه استانبول ته او بيا اسکندريې ته راغلم، څرنګه مي حضرت قبله ګاه حجاز ته روان سو او څرنګه شام ته د تلو پر مهال کښتی د " يافه" بندر ته راغله؟ په ضمن کي مي دا هم ورته وويل چي ستاسي تر ملاقات وروسته بيرته کښتی ته ځم.

ملا صاحب يو ډېر صالح، پرهېزګاره، عالم او فاضل افغان وو. ډېر کلونه کېږي چي له خپل وطنه راوتلی دئ او زياتره وخت ئې د افغانانو په دغه تکيه کي د شيخ په صفت تېر کړی دئ. افغانان،د يافي خلک، محلي حکومت ټول دده له ښه سلوک څخه ممنون ول او ډېر درناوی ئې ورته درلود. يو ساعت مي له جناب ملاصاحب سره مجلس وکړ او له فيوضاتو څخه ئې برخمن سوم. د ماپښين لمونځ مو له ده سره په جماعت ادا کړ او يوه ښه افغاني قورمه مي ورسره وخوړله.

تر دې وروسته ملا جلند اخوند محمود طرزي ته په قدس کي د افغاني دولت د نمايندګی نه شته والی او په دې لړ کي د افغانانو د ستونزو په باب او نورو مشکلاتو په باب خبري کوي او تر خبرو وروسته پخپله ملاصاحب او څو نور

افغانان له محمود طرزي سره تر ساحل پوري ملګری کوي او خدای په اماني سره کوي.

له دې اوږده بیان ځخه زما ( م. هوتک) د مطلب ټکی دا دئ چي د امیر عبدالرحمن خان د پاچهۍ په یوولسم کال د " زاویة الافغانیه" مشرتوب د ملاجلندر اخوند پر غاړه وو او دا مشرتوب ئې له څو کلونو راهیسي درلود او غالباً به ئې د مړیني تر زمانې پوري ادامه ورکړې وي. د ملاجلندر اخوند په باب نور معلومات نه لرو. د محمود طرزي له لیکني داسي ښکاري چي غالباً به د کندهار د شاوخوا اوسېدونکی وو.

د ملاجلندر اخوند وروسته بیا د خانقاه په باب معلومات په تیاره کي دي او متاخر مشر ( رئیس) ئې شیخ بهرام تره کی وو. د شیخ بهرام تر وفات (۱۹۳۸ع) تر فات وروسته ئې د اکا (تره) زوی حاجي عبدالله تره کی پر ځای کښېنوست چي د زاویې اوسنی شیخ د همدغه حاجي عبدالله تره کي مشر زوی دئ. حاجي عبدالله تره کی د رحمدل زوی او د احمدشاه لمسی وو چي د ۱۸۹۰ع کال په شاوخوا کي د غزني د قره باغ په سیمه کي زېږېدلی او په ۱۹۷۹ع کال وفات سوی دئ. د زاویې تولا ئې له ۱۹۳۸ع ځخه تر مرګه پوري پر غاړه وه.

د حاجي عبدالله تره کي ورونه اولمسیان ئې هم سته .
د الحاج عبدالله د اولادو له خولې روایت دئ چي ده تر مرګه پوري ئې د فلسطین تابعیت وا نخیست او په افغاني تابعیت ئې ویاړل.




د الحاج عبدالله د تابعيت پاڼه (تذکره) په خانقاه کي خوندي ده چي په ۱۳۲۲ش کال د سرطان پر ۱۷مه په عراق کي د افغاني قونسلګرۍله خوا ورکول سوې ده. په دغه کال ئې عمر ۴۴ کاله ښوول سوی دئ.
قوم ئې " تَرَک افغان"، کښلی دئ.


نومره د ۱۰ ع ۲۰۸۰۱ (قیمت یک افغانی)

تعرفهٔ تابعیت دولت علیهٔ مستقلهٔ افغانستان

هویت

| | |
|---|---|
| اسم و شهرت | حاجی عبدالکریم زاویة الافغان |
| نام پدر | رحم دل خان |
| عمر | ۴۳ ساله |
| مسکن | باشندهٔ ... |
| قوم | ... افغان |
| صنعت و خدمت | دوکاندار |
| قد | میانه |
| چشم | ... |
| رنگ | ... |
| موی | سیاه |
| علامت فارقه | ندارد |

برجملهٔ افراد ذکور رعیت دولت علیهٔ مستقلهٔ افغانستان لازم و ضروریست که تعرفهٔ تابعیت را بگیرند تا از افراد تبعهٔ دولت علیهٔ مستقلهٔ افغانیه شمرده شوند.
(۱) اگر شخص تعرفهٔ تابعیت خودرا مفقود نکند ... واگر تعرفهٔ تابعیتش مفقود شود ضرور است که تجدید آنرا نماید.
(۲) اگر درچهرهٔ شخص علامت فارقه از باعث حادثهٔ مرض یاسوختگی پیدا شود و سابق نباشد، لازم است که فوراً علامت مذکوره را درتعرفهٔ تابعیت خود، بحضور کلانتر یا قریه دار خود تصحیح کند.
(۳) هرگاه شخص خیال رفتن خارج را داشته باشد ازادارههای کوتوالی قرار رویت تعرفهٔ تابعیت پاسپورت گرفته میتواند.
(۴) هرگاه شخص از دولت خارج تابعیت دولت مستقلهٔ افغانیه را اختیار کند، براولازم است که تعرفهٔ تابعیت افغانیه بگیرد.

شخص مذکور که اسم و شهرت و حال و صفت دربالا مذکور گردید، ... دولت مستقلهٔ افغانیه رادارد، این تعرفهٔ تابعیت باو عطا گردید، تاشناخته شود.

۱۳۲۲

د الحاج عبدالله تره کي د کورنۍ غړي په پښتو نه پوهېږي. د ځينو سپين ږيرو ئي څو محدود پښتو لغتونه په حافظه کي پاته دي چي له مشرانو ئې اورېدلي ول.
د زاوية الافغانيه متاخر مشر شيخ عبدالکريم الافغاني نومېږي. دی په القدس کي اوسي خو زياتره وخت په الاقصی کي تېروي. د خبرو اترو ژبه ئې عربي ده.

دې زاويې ته تر ۱۹۶۷ع کال پخوا افغانان ورتلل خو اوس ئې مقتديان او ذاکرين زياتره ترُکان دي.



شيخ عبدالکريم الافغاني

لکه مخکې چې هم ويلي دي د زاويې اوسني شيخان د تصوف د شاذليه طريقې پيروان دي. زه به ددغې طريقې د معرفۍ په برخه کې خپله څېړنه ددې ليکنې له لوستونکو سره شريکه کړم. بنايي له ګټې به خالي نه وي.

## د تصوف شاذليه طريقه

علامه عبدالشکور رشاد (۱۳۰۰ ـ ۱۳۸۳ش ) ليکلي دي چي اسلامي تصوف له خدايه پرته د هرڅه او هر چا له ميني او محبت څخه زړه ساتل دي او د تصوف غايه او مقصد د خدای په مينه کي د ځان او جهان هېرول دي.

حضرت جنيد بغداديرح (۲۲۰ ـ ۲۹۷هـ ق ) ويلي دي : صوفي هغه څوک دئ چي د ځان (نفس) له پاره مړ او د خدای له پاره ژوندی وي . هغه کسان چي په دې لار کي د زړه له اخلاصه هڅه کوي ، "متصوفين" نومېږي او څوک چي د مال او جاه او نورو دنيوي اغراضو له پاره ځانونه د صوفيانو غوندي ښيي، "مستصوفين" ئې بولي.

د تصوف اصلي غايې ته د رسېدلو لار او زيار ته "سلوک" وايي. ددغي لاري لاروی او پيرو د " سالک" په نامه يادېږي. (وګ : د ميافقيرالله جلال آبادي اسماء الحسنی، تعليقات، شپاړس مخ،۱۳۵۹ش، کابل)

علامه رشاد کښلي دي : د سالک ځای د مريد او منتهي تر منځ دئ. هغه سالک چي جذبه و نلري، "مجرد سالک" بلل کېږي. که د خدای له جذبو څخه کومه جذبه په سلوک کي ور حاصله سي،" مجذوب سالک" ئې بولي او که ئې جذبه تر سلوک دمخه موندلي وي،"سالک مجذوب" باله سي.
حضرت شيخ احمد الکابلي السرهندي ( ۹۷۱ ـ ۱۰۳۴هـ ق)ويلي دي :
په معرفت کي مجذوب سالک تر سالک مجذوب وړاندي دئ او په محبت کي بيا معامله سرچپه (اپوټه) ده.
(د حاجي جمعه بارکزي ديوان ، تعليقات ۱۰ ـ ۱۱ مخونه، ۱۳۶۰ش، کابل)

په سلوک کي شريعت لومړی او طريقت دوهم مزل دئ. په دوهم مزله کي سالک د ځينو ځانګړو رياضتونو، عملونو او فکرونو په واسطه خدای پېژندني ته رسېږي.(هماغه اثر، ۱۲ مخ)

په تصوف کي ځيني طريقي د لويو او مشهورو طريقو فروعات او ښاخونه دي چي په مستقلو نومو يادېږي.

شاذليه طريقه په اهل سنت والجماعت کي يو صوفيانه طريقه ده چي شيخ ابوالحسن شاذلیرح ته منسوبه ده. د شيخ ابوالحسن بشپړ نوم نورالدين ابوالحسن على بن عبدالله شاذلی الحسينى المغربی دئ. نوموړی د اوولسمي هجري پېړۍ له لويو بزرگانو څخه وو. دده نامه ته منسوبه تصوفي طريقه " شاذليه" د افريقا په شمال لويديځو برخو کي باب ده.

شيخ ابوالحسن شاذلي د مراکش په عماره نومي کلي کي زيږېدلی دئ او حج ته د سفر په لار کي د مصر په عيذاب نومي دښت کي وفات سو.
(عيذاب په مصر کي د بحيره احمر پر غاړه واقع دئ. ( ويکيپيديا)

ميافقيرالله جلال ابادي ثم الشکارپوريرح ( ۱۱۹۵هـ ق مړ ) ليکلي دي چي شيخ ابوالحسن شاذلي په ۵۷۱هـ ق کي زيږېدلی او په ۶۵۶هـ ق کال وفات سوی دئ. (وګ : مکتوبات ميا فقيرالله ، د لاهور چاپ ، ۳۱۲مخ) خو په ځينو ماخذونو کي ئې د زيږېدو کال ۵۹۱هـ ق او د وفات کال ئې ۶۵۶هـ ق کښلی دئ.

محققينو د شيخ ابوالحسن شاذليرح په تاليفاتو کي "حزب الکبير، حزب الحفظ والصون، حزب الحمد، سرالتسخير عالم الکون" نومونه راوړي دي او وايي چي نور تاليفات هم لري. علامه عبدالحي حبيبي کښلي دي چي " حزب الشاذلي" ئې معروف کتاب او چاپ سوی دئ او زياته کړې ئې ده چي " د شاذلي په طريقت کي رياضت، زهد، د روژو ډېروالی، د خوب لږوالی او په صحرا کي سکون دود وو." (د ميا فقيرالله پېژندليک ــ ۶۸مخ)

ميافقيرالله جلال اباديرح چي د تصوف په دروديرش طريقو کي ماذون وو، په هغو کي ئې د شاذليه طريقي د ارشاد اذن هم درلود.
نوموړي ميا صاحب د مکتوباتو په څلوراويايم مکتوب کي چي د حاجي مولاداد قندهاري په نامه ئې په عربي ژبه کښلی دئ په هغه کي ئې په اشرف البلاد احمد شاهي ( کندهار) کي د حضرت سرور کائنات(ص) د مبارکي خرقي په باب څېړنه کښلې ده او په ترڅ کي ئې د مشايخو د خرقي د اِسناد په باب توضيحات هم راغلي دي. دا مکتوب د چاپي مکتوبات ( د لاهور چاپ) له ۲۹۸مخ څخه تر ۳۲۳مخ پوري راغلی دئ او په ۳۱۲مخ کي ئې د شيخ ابی الحسن شاذلي قدس سره د طريقي په باب کښلي دي چي دا طريقه " السيدين الشريفين الحسن والحسين

رضی الله تعالی عنهما" ته رسیږي او زیاته کړې ئي ده چي دا طریقه له " المدینیه، القادریه او الرفاعیه" طریقو سره وصل کیږي.
المدینیه طریقه ابومدین عبدالله بن شعیب بن حسین مقري (۷۰۹ق مړ) ته منسوبه طریقه ده. وایي دغه طریقه د رسول په اخلاقو د تخلق، د نفی او اثبات او اسم ذات د اذکارو او نورو تبلیغ کوي. (هماغه اثر ـ ۷۲مخ)
القادریه طریقه غوث الثقلین محی الدین سلطان شیخ سید عبدالقادر ګیلاني ته منسوبه طریقه ده.
الرفاعیه طریقه سید احمد رفاعی بن ابوالحسن ته منسوبه طریقه ده چي د بغدادي غوث الاعظم ( ۵۷۲ق مړ) له مریدانو څخه وو. په دې طریقه کي زهد او مجاهدې ته هڅه کیږي. د خلکو د عیبو پرده پوښي او پر خلکو شفقت، د فیاته التقات نه کول، د احکامو مداومت او نور شامل دي. ( هماغه اثر ـ ۷۱مخ)
د سید احمد رفاعي بشپړ نوم احمد بن ابوالحسن علی بن احمد بن یحیی بن حازم بن علی بن رفاعه مغربی دئ. کنیة ئي ابوالعباس او په ابن رفاعي سره شهرت لاره. په ۵۷۸هـ ق کي وفات او په عراق کي د شیخ یحیی نجار په ګومبته کي ښخ سو. شیخ نجار د احمد رفاعي مورنی نیکه وو.
نوموړي میاصاحب پخپل پښتو منظوم اثر" فواید فقیرالله" کي د شیخ ابوالحسن شاذليرح او د هغه د حزب البحر په باب داسي فرمایلي دي:

واوره ته له مـــــــا حبیبه
تر هـــــمه خوشبوی طیّبه

حزب البحر اِسناد ورروه
درته وایم اوس وګــــوره

بــــوالحسن شــــــاذلي نه
پاتو شــــــــوی دی میَنه

افـــــاضه ئي روحي جانه
وه دده روزي پــــــــردانه

په هــــــــغه افاضي یاره
ده مـــــــوندلي وه دلداره

له حـــــضرت مصطفی نه

ده مونـــــدلي وه اې جانه

ددې ورد ډېر خاصيات دي
بې عدد بې نـــــهايات دي

دي ويلي ډېر عـــــــلماوو
بزرگان ښـــــــو فضلاوو

دوی قسم کړی دئ جانه
په دا شــــان اې مهربانه

چي په دې اوراد کي يـاره
اسم اعظم دئ برخورداره
الخ
(فوايد فقيرالله ــ ۹ـ ۱۰ مخونه)

د حزب البحر په باب زما استاد علامه رشاد کښلي دي:

" وايي يو وخت شيخ ابوالحسن شاذلیرح په بحيره قلزم (بحيره احمر) کي سفر کاوه. باد تېپ ودرېدئ، کښتۍ (بېړۍ) هم ودرېدلي، څو ورځي باد و نه چلېدئ او د کښتۍ خلک خورا په عذاب سول. شاذلی رحمة الله عليه ته په خوب کي حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم يوه دوعا ور وښووله، دی چي را ويښ سو هغه ئي وويله، باد وچلېدئ او کښتۍ رهي سوله. دغه دعاء " حزب البحر" نوميږي." (فوايد فقيرالله ، تعليقات، اووه شپېته مخ)

د شاذليه طريقي له لويو شيخانو څخه يو شيخ احمد مصطفی علوي (علوي په قريشي هاشمي خاندان کي د حضرت علی کرم الله وجه اولاد ته ويل کيږي. د حضرت علي د زوی محمد اولاده بيا حنفي يا حنيفي سادات بولي او د محمد بن علي مور حنيفه نومېدله او اولاده ئي حنفي نوميږي. حنفي سادات بايد د امام ابو حنيفه د مذهب له پيروانو سره اشتباه نه سي.) دئ. شيخ احمد د شلمي پېړی مشهور صوفي او شاعر وو چي د الجزائر په مستغانم (مستغانم د الجزاير په شمال لويديځ کي د يوه ښار نوم دئ. ( ويکيپيډيا)کي په ۱۲۹۱هـ ق = ۱۸۷۴ع کال زېږېدلی دئ. نوموړی په لومړي سر کي له" عيساويه" طريقي پيرو وو. په پنځه ويشت کلني کي مراکش ته ولاړ (۱۸۹۴ع) او د محمد بوزيدي پيروي ئې وکړه. کله چي شيخ بوزيدي وفات سو ( ۱۹۰۶ع)، شيخ علوي بيرته مستغانم ته ستون سو او هورې ئې د شاذليه طريقي

يوه څانگه د" علويه ـ علاويه" په نامه تاسيس کړه. د علويه طريقې پيروان په اروپايي هيوادو کي اوس هم سته.
شيخ احمد علاوي په۱۳۵۳هـ ق = ۱۹۳۴ع کي وفات سو.
په زاوية الافغانيه کي د ځينو متصوفينو د تصويرونو په لړ کي د سيد ابوالعباس احمد بن مصطفى بن محمد العلاوي تصوير هم پروت دئ.

